www.howd.org

## الحاج الهام الدین قیام



# بی منطقه رقیب

نه رواج او نه قانون مني رقیب
نه اصلاح او نه سمون مني رقیب

اوس هرچاته بد او رد وايي لګيادی
د خپل جهل او جنون منی رقیب

د خپل کورپه مخوروپوری خاندي
خو د هرپردي لمسون مني رقیب

د سرسام په ثیر مدام په چیغوسردی
نه آرام او نه سکون مني رقیب

نه د ټول ملت د رايو درناوی کړي
نه د ټولو خلکو شتون مني رقیب

نه د ښځورایی ، رایی ورته ښکاري

www.howd.org

نه یی ووټ ته راوتون مني رقیب

نه د رایو بیاشمیرنی ته حاضردی
نه پدی کارکی ګډون مني رقیب

په وطن کی د تورتم راوستل غواړی
نه رڼا ، نه سباوون مني رقیب

نه په خپل تجرید د نرپه څیر اقرارکړي
نه د ټول ملت غبرګون مني رقیب

ولسونه ټول پسونه ورته ښکاري
نه قیام ، نه یی پاڅون مني رقیب

والدورف/جرمنی
۲۰۱۴/۰۷/۱۱

www.howd.org